مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبر بری ۲۰۲۳/۰۹/۲۴

# د غم خپسه

که زما کره راتلي د زړګي سره
سر کي شور، زړه کي اسرې درسره راوړه
دواړو لاسو کي ښائسته ګېډۍ د مینې
په خوله مستي تراني درسره راوړه
زه د وخت سړو په تن یم کرخت کړي
تنها مه راځه، لمبې درسره راوړه
زه د ژوند ترخو په ملا یمه مات کړی
ته د خپل ژوندون خوږي درسره راوړه
زما کوټه تپه تیاره، تپه تیاره ده!
د رڼو هیلو ډېوې درسره راوړه
چي دا ډک له غمه زړه مي درته تش کړم
ښې پراخي حوصلي درسره راوړه
چي دا خړه ورځ مي ببرته رنګینه کړي
تک سره مې او دوه پیالې درسره راوړه
ګوره ماغوندي خواشینی چي را نه شي
ښې پرېمانه ولولي درسره راوړه
ګوندي ستا د نیک قدم له برکته
زما له ژونده شي د غم خپسه پرته


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ